مسئولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

نورمحمد لاهو

۲۰۲۲/۱۲/۰۳

ستا لاسونه!

ستا لاسونه د چاردهي د هوا پوست او تک سپین خوند کا

دارالامان راته یادیږي

شنه خندا دې ما هغه آسمان ته بیایي

چې ټول عمر د ښایسته سپوږمي په ځای یوه نجلۍ په کې راخیژي

چې بانه یې ستا د زلفو خوشبویي کا

لکه ستا د خواږه مخ سپینه ښکلا، چې

خپلې پیغلې دایرې کې همیشه څوارلس کلنه پاتې کیږي

اې!

خبره درته وکړم!

چې را ګورې

بیابان ولې ناڅاپه تاکستان شي د انګورو

پر ډبرو نرګس ولې راشنه کیږي

او پیرۍ هم په شیبې ولې بدلیږي؟

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ